دافغانستان اسلامي جمهوريت
جمهوری اسلامی افغانستان

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت
وزارت احیا و انکشاف دهات

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Rural Rehabilitation and Development

برنامه انکشاف اقتصاد روستایی / WEERDP

## د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ترسره شویو فعالیتونو لنډ راپورWEE-RDP ؛

نېټه: سپتمبر ۲۰۱۹

**د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو محترم معینیت ته!**

**د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام** WEE-RDP چې موخه یې د کلیوالو بې وزله مېرمنو اقتصادي او ټولنیز ژوند ته د افغانستان په ټاکل شویو کلیوالي سیمو کې وده ورکول دي، دا دی لنډ راپور یې ستاسو خدمت ته و ړاندې کیږي.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام چې د بهرته راستیدونکو لپاره د تشبثاتو د پراختیا او پیاوړتیا په مناسبت د غالۍ اوبدلو په سکتور کې د (RED) پروژه او بله پروژه د باټس لرګي د کروندې په برخه کې اداره او مدیریت هم په غاړه لري، خپل فعالیتونه په لاندې برخو کې ترسره او تر دې دمه لاندې لاسته راوړنې لري:

### الف. د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام WEE-RDP ترسره شوي فعالیتونه:

1. یاد پروګرام د هیواد د ۱۱ ولایتونو (کابل، پروان، کاپیسا، پنجشېر، بلخ، هرات، کندهار، بامیان، ننګرهار، خوست او پکتیا د ۳۷ ولسوالیو نږدې ۱۱۶۰ کلي تر پوښښ لاندې راوستي دي.
2. ۹۳۰۰ سپما ګروپونه چې ( ۶۰۶۶ یې ښځینه ) دي جوړ او له ۱۰۸ زرو څخه زیات کلیوال چې (۷۲۱۳۴) مېرمنې دي، په سپماګروپونو کې را ټول او د پروګرام د خدمتونو تر پوښښ لاندې راوستي دي. چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د کتابدارۍ، د سپماو د مدیریت، د پورونو د ورکړې، د تولیدي فعالیتونو د پلې کولو، د بلا عوضه مقطعي پانګې (Seed Capital) د ترلاسه کولو او په پای کې د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو د تشکیل په ټولو برخو کې له دوی سره د ورتیاو د جوړولو په موخه تخنیکي مرستې کوي.
3. نږدې ۴۶۰ میلونه افغانۍ په همدې سپما ګروپونو کې د سپما په توګه را ټولې او د تولیدي فعالیتونو د پیل په موخه د پورونو په توګه ورکړل شوي.
4. همدا راز یو میلون او دیرش (۱۰۳۰۰۰۰) زره افغانۍ د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام لهخوا د بلاعوضه مقطعي پانګې په توګه د دې لپاره د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو بانکي حسابونو ته لیږل شوي، ترڅو په غړو سپما ګروپونو یې وویشي.
5. نږدې ۱۲۶۸ تولیدي ګروپونه (EGs) د پروګرام ملاتړیزه مرستې څخه برخمن او خپلو کاروبارونو او تولیدي فعالیتونو ته یې پراختیا ورکړې. چې په دې مناسبت د پروګرام مرستې ۸۰ سلنه د مېرمنو لپاره ځانګړې شوې دي.
6. ۶۲ تولیدي اتحادیې جوړې او د پروګرام د مرستې تر پوښښ لاندې راغلې دي.
7. هغه ۵۷۱ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې (VSLAs) چې پخوا له دې پروګرام څخه تشکیل شوي، د ورتیاو د جوړولو په مناسبت د کتابدارۍ، د پورونو د مدیریت او د سپماو د تنظیم په برخو کې د پروګرام مرستې له دوی سره دوام لري.
8. د هیواد په کچه په ټولو زونونو او په پلازمیني کابل کې د خپلوالۍ کې د بهرته اخیستلو د سلمې کالیزې په ویاړ د ښار په چهل ستون باغ کې د ننداتونونو جوړول، ترڅو کلیوالي مېرمنې د هیواد له ټولو ولایتونو څخه خپل لاسي صنایع او خوراکي تولیدات نندارې ته وړاندې کړي.
9. د پکتیا، کاپیسا، زابل او جوزجان ولایت کوچیان د پروګرام تر پوښښ لاندې راغلي، چې تر اوسه دوی ته ۱۵ تولیدي ګروپونه جوړ او له دوی سره د تولیداتو د پراختیا په برخو کې د پروګرام مرستو لړۍ روانه ده.
10. د پروګرام سیمه ییزه دفترونه د هیواد په ټولو زونونو( کابل، کندز، بلخ، کندهار، هرات، خوست او ننګرهار) کې خپل فعالیتونه پیل کړي او د همدې دفترونو له لارې یې د هیواد ۳۴ ولایتونه تر پوښښ لاندې راوستي دي.
11. د پروګرام د روزنې څانګه د پروګرام په اړه د پوهاوۍ او همدا راز د اسلامي بانکدارۍ، د پورونو د ورکړې، کارکوونکو د ګمارنې/ استخدام او په نورو برخو کې د پروګرام ګټه اخیستونکو لپاره د ولایتونو په مرکزونو کې په منظم ډول په لار اچولې او د دې روزنیزو فعالیتونو لړۍ جاري ده.
12. د پروګرام تر پوښښ لاندې سیمو کې د ټولنې او چاپېریال ساتنې څانګه (SIU) له پلان سره سم د ټولنې او چاپېریال ساتنې او همدا راز په ټولنیز ژوند کې د جندر د اړوند چارو مدیریت او د شکایتونو د سمعې دنده ترسره کوي.

13. د پروګرام د څارنې او ارزونې څانګه په منظم ډول خپلو فعالیتونو ته د مرکزي او ولایتي کارکوونکو په وسیله دوام ورکوي.
14. د پروګرام د معلوماتي سیستم د مدیریت څانګه MIS خپل فعالیتونه له پلان سره سم د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې ترتیب او هغو ته پراختیا ورکوي.

## ب. د بېرته را ستنېدونکو لپاره د تشبثاتو د پراختیا (RED) پروژې ترسره شوې فعالیتونه:

1. دا پروژه چې د محترم مالیې وزارت لهخوا تمویلیږي، نږدې ۵۰۰۰ د غالیو اوبدلو کارګاوې او نور اومه مواد یې د پلازمېنې کابل په شمول د هېواد په اتو ولایتونو( پروان، بغلان، بلخ، هرات، کندهار، ننګرهار او لغمان) کې په بېرته را ستنېدونکو هېوادوالو لادمخه ویشلي، چې اوس له یادو متشبثینو سره د بازار موندنې او د تولیداتو د پراختیا په برخو کې پروګرام مدیریت او له دوی سره مرستې رواني دي.
2. د بېرته راستنېدونکو له پروژې څخه د ګټه اخیستونکو د پېژند په موخه سروې ترسره او په شرایطو برابر راستانه شوي هېوادوال پروژې ته ورپېژندل شوي.
3. د بېرته راستنېدونکو هېوادوالو د پېژند او تشخیص په اړه د پلازمېنې کابل په شپږو ولسوالیو کې سروې ترسره او ترلاسه شوې معلومات یې په لاندې جدول کې ستاسو حضور ته وړاندې کیږي:

| شمېره | ولایت | ولسوالی | موقعیت/ځای | نارینه | ښځینه | د سروې ټوله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | بګرامي | قلعه احمد خان<br>بتخاک، شیوکي، ده یعقوب، سول آباد | 14 | 47 | 61 |
| 2 | | ده سبز | ، د محمدیه ښارګوټی، د عرفان ښارګوټي | 74 | 166 | 240 |
| 3 | | چهار آسیاب | ریش خور، | 4 | 1 | 5 |
| 4 | | خاک جبار | حسن خان کروخیل | 0 | 13 | 13 |
| 5 | | سروبي | N/A | 0 | 0 | 0 |
| 6 | | موسهي | N/A | 0 | 0 | 0 |
| **ټوله** | | | | | | 319 |

## هغه فعالیتونه چې د بانس پروژې (PIBBD) صنعت د ودې او پراختیا لپاره په لار اچول شوي په لاندې ډول دي:

دا پروژه ، چې د سارک نړیوال سازمان لهخوا تمویلیږي، په کندهار او ننګرهار ولایتونو کې د مناسبې هوا په لرلو سره پراختیا لري او تر اوسه یې وکولای شول؛ چې لاندې فعالیتونو بشپړ کړي.

۱. د ګټې اخیستنې په موخه د بانس د ترویج او پروسس لپاره د مرکزونو ودانیزه چارې په کندهار او ننګرهار ولایتونو کې بشپړ او په دې نږدو وختونو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

۲. د لمریزې بریښنا تختې او نور وسایل په دې مرکزونو کې نصب او د پروسس کارونه یې بشپړ شوي.

۳. د اړتیا وړ ماشین آلاتو د را نیولو پروسه روانه ده.

۴. په کندهار او ننګرهار ولایتونو کې د دې بوټي د کښت په موخه د ۸۰۰۰ قوریو یا د نهالونو لپاره د ځایونو جوړولو لپاره اقدامات ترسره شوي.

## د . روان فعالیتونه:

1. د پلان شویو سیمو نوې کلي او ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستل او په دې کلیو کې خپل ترمنځه د مرستیاله ګروپونو (SHGs) یا سپما ګروپونو جوړول، د پروګرام د ګټه اخیستونکو پوهاوی او د سیمه کارکوونکو روزنې.
2. د پروګرام د مرکزي او ولایتي کارکوونکو او ګټه اخیستونکو لپاره د پوهاوۍ په موخه د روزنو په لار اچول.
3. د پروګرام لپاره د خدمتونو د ترسره کولو په موخه د ۱۶ مرستیالو موسسو (FPs) استخدام چې د هېواد د ۷ زونونو په ۲۳ ولایتونو: (وردګ ، لوګر ، دایکندي ، هلمند ، نیمروز ، زابل ، ارزګان ، غزنی ، پکتیکا ، بدخشان ، تخار ، کندز ، بغلان ، جوزجان ، سمنګان ، فاریاب ، سر پل ، لغمان ، کونړ ، نورستان ، غور ، بادغیس او فراه. ) کې د پروګرام فعالیتونه د مرستیالې موسسې په توګه ترسره کړي.

د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا پروګرام WEERDP پورتني فعالیتونه په لنډه توګه ترتیب او ستاسو درانه حضور ته وړاندې شول.

په درنښت